السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# که خلک پوهېدلی چې په اذان او د لمانځه په لومړي صف کې څه دي (ځومره ثواب دی) بیا یې لدې پرته بله لار نه موندله چې پچه پرې واچوي، نو پچه به یې اچولې وای

له ابوهریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "که خلک پوهېدلی چې په اذان او د لمانځه په لومړي صف کې څه دي (ځومره ثواب دی) بیا یې لدې پرته بله لار نه موندله چې پچه پرې واچوي، نو پچه به یې اچولې وای، او که پوهېدلی چې لمانځه ته په وختي تللو کې ځومره (ثواب) دی، نو یو له بل څخه به مخکې کېدل؛ او که پوهېدلی چې په ماخوستن (عِشاء) او د سهار په لمانځه کې ځومره (ثواب) دی، نو خامخا به ورته حاضر شوي وو که څه هم په خاپوړو وای".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې که خلک پوهېدلی چې په اذان او د لمانځه په لومړي صف کې ځومره فضیلت، خیر او برکت دی، او بیا یې د دې لپاره د وړاندې کېدو او لومړیتوب هېڅ لاره نه موندله پرته لدې چې قرعه (پچه) پرې واچوي چې څوک یې مستحق دی، نو قرعه (پچه) به یې اچولی وای، او که پوهېدلی چې لمانځه ته په لومړي وخت کې حاضرېدل ځومره اجر لري، نو له یو بل څخه به مخکې کېدل، او که پوهېدل چې د ماخوستن او سهار لمونځونو ته په تللو کې ځومره ثواب دی، نو تلل به یې اسان ګڼلی وو که څه هم په خاپوړو سره وي، لکه څنګه چې ماشوم لومړي ځل لپاره خاپوړې کوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65735

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee